


داکتر صاحب

نوی شار

کابل ـ ١٣٣٩ هجری خورشیدی

يواجتماعي ضرورت ښكاره كيده. بالعكس دلته دميړه دمشر ورور،دمفه ډيلار، دتره اونورو مشرانو ښخو اوناريناوو دومره ادب اواحترام وكړي چه كله كله يې بيخي ملاماتولوته نژدې كوي. دلته بايد دې تــه هم تياره وي چه ميړه به يې ډير ځله يوازې دنارينه وومجلس جوړوي اودخپلو نارينه دوستانوسره به دومره نژدې په تماس كښې وي اوداسي وضع به ورسره كوي چه دنفسياتو يوسودايي عالم حتماً به سوداكښې اچوي اودغيرطبيعي علايقو گومان وربانديې كوي .

(۲)

وطن ته دډاكټر صاحب دبيرته راتلونه اوس زيات وكم دري مياشتي تيرې شوې دي. چه په يوروپ كښې ؤ نودخپلو وروستو پنځو كلونو په استوگنه كښې ورته داضرورت ډير زيات محسوس شوي ؤچه بايد دخپل هيواد دثقافت نه پوره خبروي. ده هلته وليدل چه په خلــكو دې خبرې چندان تأثير نه كاوه چه ده به ورته دفرانسي دلوى انقلاب په باب څښې څه ويلي شويابه يې ورته ديوروپ دفلاسفه ؤ نومونه صحيح تلفظ كول او دهغوى په باب كښې به يې ورته معلومات وركولي شو. داخبرې هغوى ته دده نه ښې يادې وې،هغوى غوښتل چه دده دوطن دتاريخ، جغرافيې،حقوقو دفكر طرز اودژوندانه دفلسفي په باب كښې دخپلو معلوماتو خزانه زياته كړي. هغوى دلامارتين دقصيدونه پوره خبروومگر دجامي اوخوشحالخان په باب يې دومره څه نه واوريدلي چه تنده يې پرې ماته شي .

هلته ډاكټر صاحب (دهغه وخت شاگرد) په دې پښيمانه شو چــه ولي يې دپښتو اودينياتو معلم صاحبانوته هغومره غوږنه ؤ ايښي چه دغرب دفلسفي ښوونكي مستر اوپروفيسورته يې ايښود، دډاكټر صاحب ښه په ياددى چه يوورځ يې دخپلو همزولو اوملگرو سره په پوهنځي كې خبرې كولي اوخبره په صادراتو وارداتو راغله. ده دانگلستان صادرات اوواردات چست وښودل مگر دخپل وطن د صادراتو په شمارلو كښې مانده او پخ راغي اوچه بحث په ښارونو شونو ديوروپ مشهور بندرونه اوښارونه يې په يوه سا حساب كړل مگر دخپل ملك ورته فقط يوځــو مشهور مشهور معلوم وو اوتوريې څه ونه شو ويلي .

ددې نيمگړتياوو دپوره كولو دپــاره ډاكټــر صاحب د يوروپ پــه كتابخانو كښې دخپل وطن په باب مطالعه وكــړه اوگويا دلاس غوټه يې

په خوله ایله کوله .

په مطالعو کښې دهٔته دیو مستشرق احساس پیدا شو اوبالاخره یې دخان سره غوڅه کړه چه د خپلې ډاکټرۍ رساله هم په خپل ملـك کښې دخپنو ثقافتی مسایلو اواساسونه‌په تحول‌اوتطوربانديي ولیکي‌اومخصوصاً هغه مستقل عناصر بیان کړي‌چه ده ته په خپل ثقافت‌کـی مهم ښکاریدل اودده وطن‌ته یې یوممتاز اوبیلوونکی صفت ورکړی ؤ .

رښتیا رښتیا اودروغ دروغ، ډاکـټر صاحب چه هـم‌یې ښه درجه اخیستی‌وه اوهم‌یې خان دخپل وطن په باب کښې پوره ملاکړی ونوی په خان اعتماد زیات شوی‌ؤ اودخپلو نورو ملګرو اوهم سبقونه ورته په خان کې یوڅه زیات ښکاریدل، غرور خوورته سړی نه شي ویلی مګر پرخان اعتماد اودخپل نفس نه رضائیت یې یللی شو .

اوس چه دډاکتر صاحب په وطن کښی خومیاشتی تیری شوي دی نودکور آبادولو فکر ورسره جدی دی. دی په دې ښه پـوهیده چـه دده په وطن‌کښې څه کلاسیك وسایل دښځی دانتخاب دپاره مـوجودؤ مـګر دیوروپ اتو کلونو ورته داخبره هم ګرانه کړې وه چه اوس یوداسی‌خوك دخپل ژوندانه ملګری کړي‌چه بیخي ورسره نه پیژنـی، پـوښتنو پلټنو ډاکتر صاحب‌ته داخبره ثابته کړه چه اوس اوس دده په ملك کښی‌دښځی کولو دپاره دپخوانی اوغربی میتودونو یو مخلوط استعمالیږی، خوك بـه پیدا کوی‌چه دښیي مجلسونوته دی لارپیدا کړی بیابه هلته دجینکیوسره پخپله آشناکیږی، بیابه‌بل خوك پیداکوی چه دمور اوپلار سره یې خبرې وکړی اوممکنه ده پخپله دجینۍ سره هم همدغه خوك خبره غوڅه کـړی ددې نه برسیره به دمشر کاکا، ابۍ اوبابا دنظریاتو دښه کولو د پـاره هم خوك برابروی .

(۳)

ډاکټر صاحب دخپل ملك په پایتخت کښې اوسیږی، داښارهم دده دملك دنورو ښارونو اوعلاقو اوهم ددنیا دنورو ښارونو نـه ډیروخواصو بیل کړیدی. اول خوداده چه دلته یوډیرقوی طبقاتی امتیاز موجود دی‌مګر دپردی لاندې. په دې ښار باندې دغربی تمدن دظواهرو یـوه داسی چپه راغلی‌ده چه نور ټول معیارونه او مقیاسونـه یې د ځان لاندې کـړی دی دژوندانه دتقلیدی اوپخوانی نظام دخپنو اساساتو سوء استعمال اودهغی نه سوء استفادې پخپله هغه نظام دخلکو په نظر کښې بدکړی دی .

داچه دخپلو عواملو سره یوځای شوی نوي ددې ښاراوسیدونکي دخپل ثقافت دبنیاد اودخپل ژوندانه دنظام داساس نه نه یوازې بیګانه کړي بلکه دهغه نظام اوهغه ثقافت پرضد یې ددوی سره عجیبه بدبیني کړکه او تیښته پیداکړې ده. دېره چه هرڅه راځي هغه ښه دي اودلته چه هرڅه شته هغه بدی دا ددې ښار داوسیدونکو د تفکر دطرز اساس دی اوډاکټر صاحب چه دېره تازه راغلی دی په همدې اساس ښه دی اوهرڅوك یې قدر اوعزت کوی که څه هم پخپله ډاکټر صاحب لاتراوسه په دې سرپوره نه دی پوهیدلی.

(٤)

ما ښام تیاره ده، دباڼه سړك اړخ ته چه کوم کورونه په ناموزون ډول قطار شوی دی دهغوی په منځ کښي دمحبوبه جانی کورهم دخلورو نسبتاً جګو دیوالونو دننه پروت دی. محبوبه جانه اوس پنځوس کلنی ته ورنژدې شوې ده او دداسې یوې لویې کورنی لورده چه یوه ورځ یې هرغړی مخکی ته ویل: «ته څه اوزه به بیادرځم» محبوبه جانه بیشماره وریرونه، وریرې، خوریونه، خورزی، دتره لونی، نمسی اودغسی نورخپل خپلوان لری. دمیړه دمرګ یې تقریباً شل کاله کیږی اودهغه نه ورته یو دوه کورونه پاتی شوی دی چه خارجیانو ته یې په کرایه ورکړی اوښایسته ښې پیسې ورته دمیاشتی راځي. داپیسې دومره لږې هم نه دی چه محبوبه جانه دې وربانده دیارانو دوستانو دجومی شپه ګرمه نه کړی شی اودومره ډیرې هم نه دی چه دهغوی دسوغات، تحفی اویونیم کومك نه وربانده بیخی بی نیازه شی، یعنی ګویا دمحبوبه جانی ژوندون دکور په کرایه ولاړ دی اوهغه هم باید خارجیانو سره په کراوی او خارجیان خو اول دسره دمحبوبه جانی سره چه په هیڅ خارجی ژبه نه پوهیږی نه بلدیږی اوچه بیاکوم یو نیم ورسره بلدهم شی نوهغه خودابه دپاره په دې ښار کی نه اوسیږی ضرور به ځي. ددې معنی داده چه تقریباً هرکال محبوبه جانی ته دخارجیانو دآشنایی مشکل تازه کیږی. ددې دپاره محبوبه جانی پیش بینی کړې چه ددوستانو آشنایانو په حلقه کښی داسې څوك هم شامل کړی چه هغه دخارجیانو سره نژدې رابطه اوتعلق ولری، دخپلو خپلوانو نه هیڅ خیر نشته هغوی همیشه په خپلو خولو تښی ډوب وی اوچه کومك دې ترې وغوښت بیاستا په کار کښي دومره مداخله کیږی چه پخپله خبره به دې پښیمانه کړی

نوځکه دمحبوبه جانې په کورکښې دآشنایانو دوستانو شمار همیش ته دخپلو خپلوانونه زیات نه وي‌کم هم نه دی، دمحبوبه جانې هم داخبره‌په‌طبعه ډیره برابره لګیده چه ددوستانو آشنایانو حلقه ورځ په ورځ تاووی.صفت‌یې‌کوی سخاوت اوښه طبعه اوګله ګله یې جمال هم ستایی، دښار نوې زړې ورته راوړی اودهری افواه هری خبرې اوهرې پیښې‌نه یې‌خبروی. ډیرخلک‌دی چه ددغه ښار په نسبتاً تنګ محیط کښې‌بل‌ځای سره نه شي‌یوځای‌کیدلی نوهغوی هم داغنیمت ګڼلی‌چه دلته سره ګوری، دهغه خلمی هغه پیغلـه خوښیږی مګر بل‌ځای سره نه شي راټولیدلی. دواړه کـوښښ کـوی‌چه محبوبه جانه ویپیژنی اوبیا دهغی دجومی دشپې په ټولنه کښې شریک‌شی هغه خوك چه غواړی‌چه دجا دنفوذ نه استفاده وکړی دواړه دمحبوبه‌جانې ددربار لمن نیسی اومرادته رسیږی. ځینی داسی دپاخه عمر معتبرکسان هم شته چه بل ځای نه‌شی کولی خپله تنده ماته کړی هغه هم دغه دربارته راځی .

(٥)

هو! تیاره ماښام دی اوژمونې ډاکټر صاحب خپل خورانښکلی کالی په ځان اچولی اودمحبوبه جانې د کـور پلوته چه ده ته هم نه دی معلوم لګه ډیوی مجهولی آینډې خواته درومـی. دتنګ پتلون تنـګی پیڅې یې دایټالوی بوټانو په ډیرونریو خوکو باندې نیغی وریږوتی ، کمیس یـی تك سپین له ورایه ځلیږی اودنیکټایی غوټه یې هم په آخرین مودجوخته‌ده اوهم یې دجرابو سره رنګ یوشان دی، دنسبتاً تورې دریشی سره‌ډاکټر صاحب یونسبتاً سپین واسکټ هم اغوستی‌چه ډیرې قیمتی تڼی‌دږباندې لګیدلی دی. دډاکټرصاحب سراوصورت پخپله دده دیوزوپ داتوکلونوپه هستوګنه شاهدی وایی، دده سره پخواکښې چه کوم ملګری روان‌دی‌هغه په‌ښارکښې دهرچانه زیات خارجیان پیژنی اودهغوی دبرکته دمحبوبه‌جانې په دزبارکښې دهرچانه معتبر دی، دومره معتبرچه حتی میلمانه‌یې‌هم‌پکښې عذریږی .

ډاکټر صاحب‌ته د لارې ملـګری دومره ډیرې خبرې دمحبوبه جانې ددربار په باب‌کښې‌کړې‌وې چه هغه په مشکل‌کولی شو خپل وجداوشوق اوبې صبری پټه کړی .

دلارې په سرهرښکلی اوښایسته کور ډاکټرصاحب‌ته دمحبوبه‌جانې

دربار بریښیده اوچه هره ښکلې پیغله یانیمزالې به یې ولیده نوفکر به‌یې کاوه‌چه داهم حتماً هماغه دربارته روانه ده، دیوخلور لارې کوڅې کونج‌ته یوه خړه دروازه وه‌چه بالاخره دډاکټرصاحب ملګری‌ورسټون‌شو اوهغه‌یې ونکوله. ډاکټر صاحب‌چه خودکور در اودیوال‌ته پام کیده بیاوردننه‌شوی‌و په دهلیز کښې‌یې‌دساز اوسرود آوازتر غوږه‌شو، معلومه شوه چه نن‌کومه خاصه میلمستیا ده .

(٦)

ډاکټر صاحب چه محبوبه جانۍ‌ته معرفي شو دهغې دسترګې مشې اوخوازه مشي نه معلومه شوه چه دډاکټر صاحب په باب‌یې معلومات‌لرل مګر دامعلومات لکه څنګه چه ډاکټر صاحب فکرکړی‌و هغومره ډیرنه وو محبوبه جان اودهغې نژدې حلقه همدومره خبروو‌چه دی اروپا دیده ډاکټر دی اوښځې پسې ګرځي اوبعیده نه ده چه دهغې دکومې وریرې سره یې نصیب وشي .

مجلس ډیر ګرم‌ؤ اوخلمې اوپیغلې، دیاخه عمرښځې‌اونراوحتی‌ځینې بوډاګان اوبوډۍ هم پکې‌وې، ښایسته مشهور سندر غاړې داغزل غږاوه:

بیا تاګل برافشانیم ومی درساغر اندازیم

فلك را سقف بشګافیم وطرح نو دراندازیم

اوچه به دې غزل‌کښې به یې هره نوې کړۍ اچولــه، ته به وایــې دمجلس سرګرمو نرونښځودشوق اسونوله به یې متروکه ورکوله .

ډاکټر صاحب په یوه حلقه‌کښې کښیناست، دډیرو نجونو ورته‌پام شولکه چه دده دحال نه هغوی هم لږو ډیر خبرې وې، ډاکټر صاحب ته خدای شته دغرور یوه نیشه‌هم پیدا شوه، په دغه حلقه‌کښې‌دمحبوبه‌جانۍ یوه خور ناسته وه چه څلور پنځه خویی سکه وریرې لرلی، دیوې وریرې نوم‌یې هوسۍ وچه ۱۷کلنه وه اوډاکټر صاحب‌ته مخامخ نژدې ناسته‌وه هوسۍ ښایسته ښه منځ، ښه وینښتان اوښه اندام لاره، دغاړې جامې یې دپاریس په هغه فیشن برابرې‌وې چه دډاکټر صاحب دراتلونــه وروسته دکریستان ګنډونځی راویستلي واونه یوازې دهوسۍ بلکه تقریباًدمجلس دټولو پیغلو اونیمزالو جامې دهغې په اساس ګنډلې شوې وې .

دنجونو اوښځو دشونډو، دمنځ، دلاسونو اوسینونه داسې معلومیده لکه چه دالیزابت اردن دکارخانې په کومه ذخیره ددې مجلس دښځو لاس

برشوی وی، دوروځو بنکرونه دچاسم‌تلی‌وو اودچاکاره،مگر ټولوبی‌استثنا په خپلو وریځو باندې دتورقلم وریځوته ترجیح ورکړې‌وه. ډاکتر صاحب چه دغسی غلیظ ماکیاژ یوازې دپاریس په ځینو خاصو ځایونوکښی‌لیدلی و، نوبی ابتداء په هوسی شك راغی اوبیایی‌چه ولیدل‌چه ټولی ۱۷کلنی اوحتی ۱۵کلنی جینکی همدغسی به همدغه ډول وې، پوه شوچه سهوی کړې وه، دلته باید دپاریس کلیات تعقیب نه کړی، داسو دا هم ورته پیدا شوه چه ممکنه ده دده خومیاشتی پخوا پاریس بـه داوسنی پاریس نه توپیر پیداکړی وی.

دقیمتی عطرونو تیزې اوتُندې رایحې فضاډکه کړې‌وه، ډاکتر‌صاحب بیخی گومان نه‌کاوه چه دی گوندې پخپل وطن‌کښې دی، هغه وطن‌چه ده په فقر پیژندلی‌و اونن‌یی دهرې پیغلی اونیمزالـی کمیس دده ددوه درې میاشتو معاش پوره کوی .

دی لاپه همدې چورت کښې‌ؤ اودخپلی آیندې ویرې اخستی‌ؤ چـه ناڅاپه ورته دهوسی ترور پوښتنه وکړه :

ــ ډاکتر صاحب ستا معاینه خانه چیرته ده ...؟

اوچه ډاکتر صاحب ځان خواب‌ته جوړاوه هغی تری نوری بی‌واره پوښتنی وکړی :

ــ دورځی څومره مریضان درته راځـی ؟ یعنی دورځـی گټه دې څومره ده؟

په کومه شفاخانه کښې نوکریی ؟

ډاکتر صاحب په ډیر مشکل وکولی شوچه دهوسی دترور د یوې وقفې نه استفاده وکړی او ووایی :

ــ صاحب وبخښئ زه دطب ډاکتر نه یم .

ــ ماته خو ټولو ویلی ووچه ته ډاکتر یی .

ــ ډاکتر یم مگر دطب نه .

ــ یعنی آشنایان دې درته هسی په ټوکو ډاکتر وایی ؟

ــ نه زه دډاکتری شهادتنامه لرم .

ــ نوڅنگه ډاکتریـی چه معاینه خـانه دې نه شته او د ډاکتـری شهادتنامه لری ؟

ــ زه دادبیاتو ډاکتر یم .

ـ یعنی‌چه خوك په ادبیاتو باندې پوهیږې اوزمونږ ددې سندرغاړې
غوندې ښه ښه شعرونه یې یادوې یوازې دهغوی ډاکټرې کوې او د
بل چانه ؟

ـ نه‌صاحب زه په ادبیاتو کښې دډاکټرۍ شهادتنامه لرم .

دلته هوسۍ مداخله وکړه اوخپلې ترورته یې د ادبیاتو دډاکټرۍ
داعکان په باب توضیحات ورکړل او ورته یې وویل : په نوره دنیاکښې
دنورو شیانو ډاکټران‌هم شته. دهوسۍ ترور هماغسې‌په تعجب کښې‌وه
غټه جټکه‌یې خوړلې وه مگر دډاکټر صاحب نه یې بیاهم پوښتنه‌وکړه .

ـ ښه خوکاله سبق دې ویلی ؟

ـ تقریباً شل کاله .

ـ خوکاله په یوروپ کښې وې ؟

ـ اته کاله .

ـ اوس دلته څه منصب لرې ؟

ـ استاد یم .

ـ استاد یعنی معلم یې ؟

ـ هو !

دهوسۍ ترور په یو داسې عصبانی حرکت دحلقی نه پاخیده چه
پټول یې گران کار و .

دهغی دوتونه وروسته ډاکټر صاحب بیاوکولی شوچه خپل حواس
راټول کړی اودهوسۍ سره دخبرولړ راونیسی :

ـ داخومره ښایسته کمیس دې اغوستی، داهمدلته جوړ شوی ؟

ـ هو، تورته یې دلتهن ده مگر جوړ شوی همدلته دی .

هوسۍ دډاکټر صاحب سرو صورت خورا خوښ کړی‌و نورانژدې
شوه اوورته یې وپوښتل :

ـ دپاریس نه کله راغلی یې ؟

ـ درې خلور میاشتې کیږی .

ـ ته هلته وې چه دبریژیت‌باردو زوی وشو؟

ـ نه ، زه دفرانسې جنوب‌ته تللی وم .

ـ عجب؟ ته څنگه په هغه وخت‌کښې د پاریس نه دباندې تلې چه
دبریژیت باردو زوی کیده ؟

ډاکټر صاحب موسکی شو اوویې‌ویل :

ما خوورېل چه زه دطب ډاکتر نه یم- بیایي زیاته کړه :

ــ زه اصلا سینماته ډېر وخت نه لرم .

ــ نه نومابښام څه کوې ؟

ــ کتاب لولم یاموسیقي اورم .

ــ خومره کتاب لوستل ! څنګه دي زړه نه تنګیږی ؟

ــ زړه مې‌چه تنګ شي کتاب لولم .

ــ والله عجیبه حوصله لرې .

ــ اوس خودغسې ده نو .

ــ اوس چه په ... سینماکښې نوې فلم راغلی هغه دې لیدلی؟

ــ نه مګر اوریدلي مې دي‌چه دارنست همینګوې په یوه قصه‌بنادی تامغه قصه لوستلی ؟

ــ نه ماخوفلم لیدلی .

ــ مګر دکتاب لوستل بل شی اوفلم لیدل بل شی دی .

ــ مقصد داچه سړی دقصې نه خبر شي .

ــ نه دامقصد نه دی .

ــ ښه څه ورك یې کـړه داقصه پر پرده په کتابو نـو کښې خـو ته تکړه یې .

ــ هرمابښام په پاریس کښې شانزه لیزې‌ته تللی ؟

ــ نه، کله کله .

ــ دادي بله عجیبه ؟ رقص دې زده ؟

ــ هو !

ــ هره شپه به دې په پاریس کی کړی وی ؟

ــ نه ، کله‌کله .

دادې بله عجیبه .

دهوسۍ هم نوره حوصله تنګه شوه پاځیده اویوې بلـې حلقې‌تـه ورنژدې شوه دډاکټر صاحب دوجود نه دهوسۍ یوه بله تورو خبره شوه نویې خپلو خویندوته ووېل: څه کیږي‌چه معلم دی‌که نورڅه یې برابروی بیخي درست دی، نودډاکټر صاحب حلقې‌ته راننوته او دواره یـې ورنـه پوښتنه وکړه :

ــ تنخوا دې خومره ده ؟

ـ دزه زره روږی .
ـ دابه ته څه شی کړي ؟
ـ آینده به ښه شی .
ـ ښه کور لري ؟
ـ تراوسه پوري څونه .
د هوسی بلی ترور هم چه ډاکټر صاحب پر پښودلـونو ورتـه وېی ویل :
ـ دومره خوك دي هم نه ووچه تاته یی ویلیوای: یوبل سبقوروایه؟
په همدغه وخت کښي ډاکټر صاحب دیولیك دلیکلو عزم وکړاوهغه دپاریس ملګري ته دراتګ بلنه ورکړه .